Refugee Legal Support | Afghan Pro Bono Initiative

Hosted by Refugee Legal Support and Safe Passage International

SAFE PASSAGE

# د(ACRS) بې ځایه شویو کورنیو لپاره د ځان مرستې لارښود
# لاره (لاره 1 ، مرحله 2)



بڼه 1: 23 سپتمبر 2024

## اعلامیه

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا لارښود د یوې سرچینې په توګه لیکل شوی ترڅو د افغان اتباعو او د دوی د کورنیو له غړو سره د نوي جلا شوي کورنۍ لاره د افغان اتباعو د بیا میشتیدنې سکیم **(ACRS)** تر لاندې په پوهیدو او لاسرسي کې مرسته وکړي.

پداسې حال کې چې دا تل غوره ده چې د خپلو ځانګړو شرایطو لپاره ځانګړي قانوني مشورې وغواړئ، دا لارښود د مرستې لپاره دی که چېرې د قانوني مشورې ترلاسه کول ممکن نه وي.

د **(ACRS)**د سپانسر فورمه انګلستان ته د ورودي اجازه نامې یا د اقامې غوښتنلیک نه ده. دا په انګلستان کې مېشته د یو مستحقه افغان سپانسر لخوا د علاقې لومړنۍ څرګندونه ده چې کورنۍ یې ورسره په انګستان کې یو ځای شي. په هرصورت ، د **(ACRS)** سپانسر راجع کولو فورمه باید چې په دقت سره بشپړه شي تر څو وروسته بیا د کورنیو چارو د وزرت لخوا د نه منلو د پریکړې خطر کم وي.

د دې لارښود تعقیب به تاسوسره د دې په پوهېدو چې ایا تاسو د نوي جلا شوي کورنۍ دلارې ورړ یاست او د **(ACRS)** سپانسرپه توګه دراجع کولود فورمې په چمتو کولو کې به مرسته وکړي. دا تضمین نشی کولاۍ چې ستاسو غوښتنلیک به بریالې وي. د همدی دلیل لپاره مورږ تاسود قانوني مشوره د تر لاسه کولو لپاره هڅوو. دا ناشونې ده چې د جلا شوي کورنۍ دلارې ټول اړخونه تشریح شي نوله همدی امله دا لارښود یوازی کلیدي تکی پوښي.

دا لارښود د سوداګریزې کارونې لپاره ندی. د عکسونو د هرډول کارونې یا بیا تولید لپاره، یا نور توکي چې د **(APBI)**،د کاپي حق لاندې ندي، اجازه باید په مستقیم ډول د کاپي حق لرونکو څخه ترلاسه شي. د نورو معلوماتو لپاره شمیم سرابي، سره په دې (shamim@afghanprobono.org.uk) اړیکه ونیسئ.

ټول حقونه خوندي دي،©2024 ، APBI عکسونه کرېډیټKayhan© :

# فهرست


| | |
|---|---|
| | پاڼه |
| پېژندنه | 4 |
| څپرکی 1 : د جلاشویو کورنیو نوی لاره څه ده | 5 |
| څپرکی 2 څپرکی. څوک کولای شي چې ارجاع وکړي؟ | 5 |
| څپرکی 3 څپرکی. د راجع کولو لپاره څومره لګښت راځي؟ | 6 |
| څپرکی 4 څپرکی. کوم اسناد پکار دي؟ | 6 |
| څپرکی 5 څپرکی. د راجع کولو لپاره مهلت څه دی؟ | 7 |
| څپرکی 6 څپرکی. وروسته څه کېږي؟ | 8 |
| څپرکی 7 څپرکی. په مکرر ډول شوې پوښتنې | 12 |
| څپرکی 8 څپرکی. اضافي سرچینې | 14 |

<u>تعریفونه</u>

| | | |
|---|---|---|
| ACRS | Afghan Citizen Relocation Scheme | د افغان اتباعو د بیا میشتیدني سکیم |
| AFM rules / additional family member rules | the additional family member immigration rules | د کډوالی مقررات چې د کورنی په نورو غړو پلي کیږي |
| BRP | Biometrics Residence Permit | د استوګني بیومتریک اجازه نامه |
| APBI | the Afghan Pro Bono Initiative | افغان پربنو نوښت |
| DARR Team | the Defence Afghan Relocation and Resettlement team | د افغانانو د ځای پرځای کولو او بیا میشتیدني<br>لپاره د برتانيي حکومت د دفاع تیم |
| Dependents | Family member who is eligible for resettlement under the ACRS, Pathway 1, Stage 2 | د کورنی غړی چې د (ACRS) د لومړي لاري **2** پړاو، لاندې ور دي |
| Operation Pitting | UK military operation that evacuated British nationals and eligible Afghans from Afghanistan between 13-28 August 2021 | د بریتانیه پوځي عملیات چې د2022 کال د اګیست له 13 تر 28 پورې یي بریتانوي اتبا او ور افغانان یي له افغانستان |
| Sponsor | Afghan person based in the UK who is eligible under the ACRS scheme to bring their family members to the UK from Afghanistan | د بریتانیا میشته افغان شخص چې د **(**ACRS **)**سکیم لاندې د دې ور وي چې خپله کورنی له افغانستان څخه بریتانیا ته راولي |
| VAC | Visa Application Centre | غوښتنلیک مرکز |

# پیژندنه

## الف.    د دې لارښود مخه

دا لار ښود د افغان پروبنو نوښت **(APBI)** له خوا چمتو شوی ده.

**(APBI)** یوه پروژه ده چې د کډوالو حقوقي ملاتړ او د نړیوال خوندي لارو لخوا د 13 مخکښو سوداګریزو حقوقي شرکتونو سره په ګډه وړاندې کیږي. هیڅ یو سازمان هم د انګلستان د حکومت سره تړاو نلري او دواړه د خپلواکو قانوني مشورو او ملاتړ خدمات هغو خلکو ته چې د برتانیا د کډوالۍ سیستم سره مخکې ځي چمتو کوي.

دا پروژه د افغان اتباعو او د هغوی د کورنیو غړو ته د لاسرسۍ وړ معلومات، قانوني مشورې او استازیتوب انګلستان ته د خوندي لارو دارتیاوو د ډېرېدو ځواب دی طالبانو له واک ته رسیدو وروسته د 2021 په اګیست کې.

APBI ) د لوړ کیفیت قانوني مشورې په وړاندې کولو، راجع کول، او په یو لړ قضیو کې استازیتوب ، د کورنۍ د یو ځای کېدو، د افغان اتباعو د بیا میشتیدنې او مرستې پالیسي **(ACRS)** ، **(ARAP)** او نورو په شمول باندې تمرکز کوي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا لارښود د یوې سرچینې په توګه لیکل شوی ترڅو د افغان اتباعو او د دوی د کورنۍ غړو سره د نوی جلا شوی کورنیو لاره د **(ACRS)** سکیم لاندې په پوهیدو کې مرسته وکړي. تاسو باید د دې لارې په هکله قانوني مشوره وغواړئ،په هرصورت، که تاسو د دې کولو توان نه لرئ، دا لارښود د مرستې لپاره دی چې تاسو د**(ACRS)** په لاره پوه شئ.

## ب.    څوک باید دا لارښو ولولي

دا لارښود د هغو افغانانو لپاره دی چې باور لری دوی ممکن د نوی جلا شوی کورنیو لاره **(ACRS)** سکیم لاندې مستحق وي او غواړي چې د**(ACRS)** د سپانسرراجع کولو فورمه بشپړه کړي.

د راجع کولو د فورمې د ډکولولپاره نور معلومات مهرباني وکړئ د دې لارښود الف ضمیمه کې وګورئ.

## ج.    دا لارښود څنګه وکاروئ

دا لارښود دې لپاره کارول کیدی شي چې تاسو سره د دې په پوهېدو کې مرسته وکړي چې آیا تاسو یا ستاسو کورنۍ د نوې جلاشوی کورنۍ لاری مستحق کېدای شئ. دا باید د نوروسرچینو سره ولوستل شي د **(ACRS)** په اړه د کورنیو چارو د وزارت له خوا لیکل شوی معلومات او قانون په شمول. دا به د هر ډول غلط فهمی مخه ستاسو د وړتیا په اړه ونیسي. د دې سرچینو څخه ځینې د دې لارښود په وروستي فصل کې شامل دي.

دا لارښود قانوني مشوره نه ده. د هر شخص شرایط له یو بله توپیر لري او دا مهمه ده چې د امکان په صورت کې قانوني مشوره وغواړئ.

## د.    نظرونه

موږ به د دې لارښود په اړه د نظرونو ستاینه وکړو. که تاسو د دې لارښود په اړه کوم نظر، پوښتنې یا وړاندیز لرئ، مهرباني وکړئ ددی فارم له لارې یې موږ سره شریک کړئ.

## هـ.    مننه

**(APBI)** غواړي له ټولو څخه دواطلب وکلا مرستې لپاره د دې لارښود په لیکلو کې مننه کېږي او همدارنګه د کډوالو قانوني ملاتړ څخه شمیم سرابي نه د دوی له نظرونو او د دې سند د دری ترجمه د بیا کتنې څخه مننه کوو.

## څپرکی 1 : د جلاشویو کورنیو نوی لاره څه ده

### 1.1 (ACRS) څه شی دی؟

د انګلستان حکومت په2022 کال د جنوری په 6 کې **(ACRS)** پرانیست. دا سکیم د د هغو افغانانو د ملاتړلپاره وه چې د بریتانیې له هڅو سره یې مرسته کړې و او د د ډیموکراسۍ، د ښځو حقونو، د ازادی د بیان او قانون په څیر د ارزښتونو لپاره ولاړ وه. دا همدارنګه د زیانمنوکو افغانانو لپاره په خطر کې د ښځو او انجونو او د لږکي اقلیتونو د ګروپونو په شمول جوړ شوی و.

### 2.1 (ACRS) مختلفې لارې څه دی؟

**(ACRS)** د وردی اجازه نامې یا د ویزې غوښتنلیک نه ده. افغان اتباع یوازې د **(ACRS)** لاند بیا میشته کېدلائ شي که دوی د لاندې ښودل شویو درې لارو به اساس راجع شي. هره لاره بېلابیل معیارونه لري او د هغو ګروپونو لپاره جوړ شوی دي چې تر ټولو زیاد د طالبانو لخوا په افغانستان کې په خطر کې دي.

د **(ACRS)** لاندې انګلستان ته د بیا میشته کیدو لپاره درې لارې شتون لری:

#### 1 لاره:

1) هغه کسان چې د پیتینګ د عملیاتو د برخې په توګه رایستل شوی و.

2) هغه خوک چې د انګلستان د حکومت له خوا ورته خبر ورکړشوی وه چې دوی به ایستل کېږي خو دوی و نشو کولای چې په الوتکو کې سپاره شي او د بل هیڅ هېواد تابعیت او یا قانونی حیثیت پرته له افغانستان څخه ونلري.

#### 2 لاره:

1) د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د لوړ کمیسیون **(UNHCR)**له خوا راجع شوي.

#### 3 لاره:

1) هغه کسان چې په خطر کې دي د دې لپاره چې د انګلستان یا د نړیوالې ټولنې د هڅوملاتړ یې په افغانستان کې کړئ و. دا هغه کسان دي چې د بریتانیا شورا سره یې په تړاو کې کار کاوه ، د ګرډا ورلډ قراردادیان یا د چیوینینګ المونی محصلین. د بهرنیو چارو او د ګدو ګټو دفتر (FCDO) به له هغو کسانو سره چې په 2022 کې یې له دې لارې غوښتنه کړې ده په ارتباط کې شي.

2) هغه خلک چې په ځانګړی ډول زیان منونکې دی.

دا لاربښود د 1 لارې، په 2 مرحله باندی تمرکز کوي کوم چې د جلاشوی کورنیو نوی لاره ده. په 30 د جولای د 2024 کال، د انګلستان حکومت اعلان وکړ چې دسکیم لاندې د مېشته افغانانو لپاره د **(ACRS** 2 ) مرحله خلاصه شو چې دوی خپل ورډ کورنی غړي انګلستان ته دې میشته کېدو لپاره راولي.

## څپرکی 2 : څوک کولائ شي چې ارجاع وکړي؟

### 1.2 څوک کولائ شي د نوی لارې لاندې خپله کورنۍ راجع کړي؟

هغه افغانان چې د 2021 کال د اګیست له 13-28 پورې د 1 لارې لاندی له افغانستان څخه انګلستان ته رایستل شوې و او وچاته چې له هغه رایسی دائمی اقامه د استوګنې لپاره وکړل شوی ده کولای شی چې ارجاع وکړي. دا هغه کس ده چې

باید د **(ACRS)** د سپانسر راجع کونکې فورمه ډکه کړي تر څو د دې غوښتنه وکړي چې د 1لارې د 2 مرحلې له لارې خپله کورنۍ انګلستان ته راولي.

### 2.2 د کورنۍ کوم غړي د راجع کولو لپاره وړ دي؟

هغه د کورنۍ غړي چې انګلستان ته د بیا میشته کېدنې د 1لارې، 2 مرحلې معیارونه پوره کوی وړ ده.

هغه کس چې د رایستلو په وخت عمر یې له 18 کالو پورته و د هغوی اړوند د کورنۍ غړي دي:

- د هغوی مېړه ، ښځه ، د ژوند شریک یا مجرد شریک. یواځې یو د ژوند شریک د 1 لارې، 2 مرحلې لاندې سپانسر کېدای شي. که سپانسر دمخه په انګلستان کې د ژوند شریک ولرې نو نشی کولۍ بل د ژوند شریک راجع کړي.

- د هغوی ماشوم چې په یا پس له 28 د اګیست 2003 کال نه زیږېدلای وي. دا ماشومان باید چې خپلواک ژوند یا خپله کورنۍ ونلري.

هغه کس چې د رایستلو په وخت عمر یې له 18 کالو کم و د هغوی اړوند د کورنۍ غړي دي:

- د هغوی والدین

- د هغوی خویندې او ورونه چې درااېستلو په وخت کې  له 18 کلونه څخه یې عمرکم و او اوس یې خپله کورنۍ نه وي جوړه کړي.

- نور د کورنۍ غړي کېدای شي چې راجع شي که به استثنایي شرایطو کې راشي.

د استثنایي شرایطو لپاره شخص به انګلستان کې باید چې دا وښیي چې د کورنۍ غړي یې مشخصې زیانمنتیاوې لرې چې د دې له امله هغوی په خانګړې توګه انګلستان کې سپانر شخص ته محتاجه دي.

د کورنۍ نور یا اضافي غړی باید دا وښیي چې هغوی په خپل اوسنۍ استوګنځۍ کې هغه پاملرنه ته لاسرسۍ نلري چې دوی ته اړینه ده اوبل هیڅ څوک هم نشته چې په معقول ډول دا دوی ته چمتو کړي. د استثنایي شرایطو لپاره کوم مشخص تعریف نشته خو په دې کې د فیزیکي روغتیا ستونځې، د رواني روغتیا ستونځې، د پاملرنې اړتیاوې یا د زده کړې مشکلات له نورو زیانمنتیاو سره  راتلی شي.

## څپرکی 3 : د راجع کولو لپاره خومره لګښت راځي؟

### 1.3 د راجع کولو لپاره فیس خومره ده؟

د **(ACRS)** د 1 لارې ، 2 مرحله لپاره هیڅ فیس پکار نه ده.

## څپرکی 4 :کوم اسناد پکار دي؟

### 1.4 سپانسرکومو اسنادو ته اړتیا لري چې د (ACRS)  د راجع کولو فورمې ته لاسرسۍ پیدا کړي.

- د هغوی د هستوګنې بایومتریکه اجازه نامه د **(BRP)** نمبر، یا

- دهغوی د غوښتنلیک مخصوص نمبر .(UAN)

که تاسو د ای-ویزې لپاره غوښتنه کړې وي نو تاسو کولای شی چې خپل مخکینی **(BRP)** د راجع کولو د فورمې لپاره وکاروئ.

که تاسو خپل د **(BRP)** کارت نور نلرئ نود مرستې لپاره دکورنیو چارو وزارت سره اړیکه ونیسئ.: ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

### 2.4 سپانسر کومو اسناد و ته اړتیا لري چې د **(ACRS)** د راجع کولو فورمه بشپړه کړي؟

تاسو اړ نه یئ چې کوم ځانګړی اسناد شامل کړې خو دا مهمه ده چې هغه اسناد اپلوډ کړئ چې ستاسو د کورنۍ د غړو هویت او د دوی اړیکه تاسو سره وښیې.

شواهد به همدارنګه مرسته وکړي چې زیانمنتیوې په ګوته کړي چې کېدای شي ستاسو د کورنۍ غړی مستحق کړي. د دا په ځانګړې توګه مهمه ده کله چې تاسو د کورنې بالغ غړي راجع کوئ څوک چې له ټاکل شوی کټګوری څخه بهر راځي چې د کورنۍ د مستحقو غړو لپاره ده په 2څپرکي کې نوټ شوی:

- تذکره
- د پاسپورت کاپي
- د نکاحنامې کاپي
- د فرزندی د تصدیقنامې کاپي
- د کورنۍ عکسونه
- د ښوونځي راپورونه
- ستاسو او ستاسو د کورنې د غړو ترمنځ بانکي انتقال
- ستاسو او ستاسو د کورنې د غړوترمنځ د ټولنیزورسنیو یا نور پیغامونه
- نور اسناد چې ستاسو اړیکه د تاسو د کورنۍ له غړو سر وښیې.

ټول شواهد باید په انګلیسي ژبې وراندې شي یا انګلیسي ته وژباړل شي

## څپرکي 5 : د راجع کولو لپاره مهلت څه دی؟

### 1.5 د ارجاع لپاره مهلت څه دی؟

د **(ACRS)** سپانسر د ارجاع فورمه به د راجع کولو لپاره د2024 کال د اکتوبر تر 30 نېټې پورې خلاص وي. د راجع کولو په فورمې کې د سوالونو یو مثال او لاربښو چې هر سوال ته څه رنګه ځواب ورکړئ د الف په ضمیمې که په (10 مخ کې) وړاندې شوی دي.

## 2.5 آیا ورسته د ختم له نیټې نه راجع کول شوني ده؟

دا مهمه ده چې تاسو دا مهلت له لاسه ورنکړئ. که تاسو ناروغ یاست او یا کوم بل دلیل لرئ چې ولې دا ممکنه نه وه چې د ارجاع فورمه مخکې د مهلت له نېټې څخه بشپړه کړئ نو تاسو باید چې د کورنیو چارو وزارت سره اړیکه ونیسئ  په دې آدرس: ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk  له دې تشریح سره چې ولی تاسو نه د مهلت نېټه تیره شوه.

هېڅ تضمین شتون نلري چې د مهلت له نېټې څخه ورسته راجع کول به په پام کې ونیول شي.

# څپرکی 6 : وروسته څه کېږي؟

## 1.6 د **(ACRS)** سپانسرد راجع کولو فورمې د سپارولو وروسته به څه پیښ شي؟

د ا په صراحت سره واضح نده چې د ارجاعاتو پروسه به څومره موده ونیسي. د پالیسی لارشود د پروسې لاندې مرحلې په ګوته کوي:

1. د ورټیا د پریکړې خبرتیا به درکړل شی چې آیا د کورنۍ غړي د بیا مبشته کېدو لپاره د 1لارې، 2 مرحلې لاندې وړ دي.

2. د کورنۍ غړو سره به انګلستان ته د ورودي اجازه نامې په غوښتنلیک کې په نږدې د ویزې د غوښتنلیک مرکز **(VAC)** کې مرسته وشي. دوی باید چې د هویت اسناد چمتو کړي (تذکره، معتبر پاسپورت یا نور ترکیبات او یا هم نور اسناد لکه عکس لرونکې د موټر چلولو جواز یا د زیږیدنې سند) او بایومتریک معلومات به واخیستل شي. مهرباني وکړئ مخکې د ورټیا له پریکړې د سفر ترتیبات مه کوئ.

3. ویزه به پس له دې چې د کورنۍ د غړو روغتیایي او امنیتي چک تر سره شو صادره شي. د کورنۍ هر غړی چې عمرېې له 18 کلونو څخه کم وي باید چې له یو بالغ کس سره سفر وکړي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د ورټیا پرېکړه د کډوالۍ پریکړه نه ده.

## ضمیمه الف

د راجع کولو په فورمې کې د سوالونو یو مثال او لارښو چې هر سوال ته څه رنګه ځواب ورکړئ

### د(**ACRS**) راجع کولو سپارښتنه

**خپل** شخصي مشخصات ورکړئ

د راجع کولو مشخصات

| | |
|---|---|
| د استوګنې دبایومتریک کارت نمبر | |
| د زیږیدنې نېټه | |
| ادا فورمه څوک بشپړوي؟ | |
| ستاسو پشپړ نوم څه دی؟ | |
| ایا دا ستاسو بریښنالیک دی؟ | |
| آیا کولئ شی چی د تیلیفون نمبر ورکړئ؟ | |

ادا تاسو ته درکړل شوی وه کله چې تاسو انګلستان ته رایستل شوی وئ. د دې نمبر پنه دوه حرفونه او ورسته اووه نمبرونه دي، لکه ا ب123456

نمبر نلرئ، تاسو کولئ شی **(BRP)** که تاسو وکاروئ. ادا **(UAN)**ځانګړی د غوښتنلیک نمبر نمبر به تاسوته د انګلستان د کورنیو چارو وزارت دراستولئ وي. د دې نمبر بنه به څلور جوړې د څلورو نمبرونو وي لکه:1234-1234-1234-1234.

ستاسو بشپړ نوم هسې چې ستاسود کورنی چارو وزارت په ریکارد کې راغلی

ستاسو اریکه د کورنۍ له غړی سره که تاسوخپل پلار راجع کوي، نو تاسو باید ووایئ چې د راجع شوي شخص زوی او یا د راجع شوي شخص لور.

د کدوالی دسلاکار مشخصات

| | |
|---|---|
| پشپړ نوم | |
| سازمان یا حقوقي شرکت | |
| پوستي پته | |
| د تلیفون نمبر | |
| بریښنالیک | |

که تاسو د فورمې د بشپړولو لپاره له تنظیم شوی د کډوالی مشاور څخه مرسته تر لاسه کړې، تاسو باید له هغوی څخه ادا مشخصات وغواړئ.

ستاسو په ارجاع کی کورنی

د کورنۍ د غړو شخصي مشخصات ورکړئ چې تاسو راجع کړي دي، انګلستان ته د راتګ لپاره

| | |
|---|---|
| آیا تاسو د ژوند شریک راجع کوئ چې انګلستان ته راشي؟ | |
| آیا تاسو ماشومان راجع کوئ چې انګلستان ته راشي؟ | |
| آیا تاسو د کورنۍ اضافي یا نور غړي راجع کوئ چې انګلستان ته راشي؟ | |
| و ژوند د شریک نوم | |
| د تیلیفون نمبر | |
| بربښنالیک | |
| د زیږدني نیټه | |
| هغه هیواد چې دوی په کې ژوند کوي | |
| د ژوند د شریک د ژوندانه وضیعت | |
| یوځای راویستل نه شوئ ځکه چې: | |
| د ماشوم نوم: | |
| د زیږدني نیټه | |
| دوی په کوم هیواد کې ژوند کوي؟ | |
| د دوی دد ژوندانه وضیعت | |

تاسو باید ووایئ چې ستاسو د ژوند شریک چیرې دی. په څرنګه ځای کې ژوند کوي او په حاضر حال کې له چا سره اوسیږي. آیا دوی باید ځای بدل کړي او یا یو ثابته پته نلري ادا. تول باید دلته ووایئ.

که ستاسو د ژوند شریک په خطر کې ژوند کوي د دوی د کورني د غړي د رول لپاره چې د انګلستان حکومت سره یې په افغانستان کې د دوی په هځو کې مرسته کوله، تاسو باید ادا توضیح کړئ چې دې څه ډول د دوی پر ژوند اثر کړئ

مهرباني وکړئ ادا توضیح کړئ چې ولی ستاسو د ژوند شریک له تاسو سره نه و رایستل شوی. تاسوباید فرض کړئ چې هغه څوک چې ستاسو فورمه لولي ستاسو قضیه سره آشنا نه ده او کیدای شي له افغانستان نه ستاسو د راوتلو حالاتو نه څخه خبر نه وي.

تاسو باید ووایئ چې ستاسو ماشوم چیرې دی. په څرنګه ځای کې ژوند کوي او په حاضر حال کې له چا سره اوسیږي. آیا دوی باید ځای بدل کړي او یا یو ثابته پته نلري. ادا تول باید دلته ووایئ. که ستاسو ماشوم له کالو پورته دی، تاسو باید توضیح کړئ چې 18 ولی دوی خپلواک ژوند نلري او ادا چې هغوی خپله کورني نلری.

که ستاسو ماشوم په خطر کې ژوند کوي د دوی د کورني د غړي د رول لپاره چې د انګلستان حکومت سره یې په افغانستان کې د دوي په هځو کې مرسته کوله، تاسو باید ادا توضیح کړئ چې دې څه ډول د دوی پر ژوند اثر کړئ

| | |
|---|---|
| یوځای راویستل نه شوئ ځکه چي: | |

مهرباني وکړئ دا توضیح کړئ چي ولی ستاسو ماشوم له تاسو سره نه و رایستل شوی. تاسوباید فرض کړئ چي هغه خوک چي ستاسو فورمه لولي ستاسو قضیه سره آشنا نه ده او کېدای شي له افغانستان نه ستاسو د راوتلو حالاتو نه څخه خبر نه وي.

کورني چي به انګلستان کي ژوند کوي:

| | |
|---|---|
| آیا تاسو کورنۍ لرئ چي په انګلستان کي ژوند وکړي؟ | |
| شواهد (فایلونه سپارل/اپلود شوي) | |

که تاسوالکترونیک اسناد نلرئ کولئ شی د اسنادو عکس واخلئ او بیاپي وسپارئ/اپلود کړئ.

که چېرې تاسو د کورنۍ غړي لرئ چي په انګلستان کي ژوند کوي، وواېئ چي هغوی خوک دي اوچېرې ژوند کوي. مهرباني وکړئ آګاه اوسئ چي د انګلستان د کورنیو چارو وزارت به د کورني لپاره سخت تعریف ولري د افغانستان په پرتله. که داسي خلک وي چي تاسو يې کورنۍ ګڼئ خو په بیولوژیکي ډول تاسو سره اړیکه ونلري، تاسو باید هغوی په دي برخه کي شامل کړئ او دا باید توضیح کړئ چي ولی تاسو نږدې اړیکي لرئ.

ستاسو فیصله چېرې واستول شي

| | |
|---|---|
| فیصله څرنګه وستول شي | |
| فیصله چېرې وستول شي | |

یه یاد ولرئ چې د (ACRS) سیانسر د راجع کولو د فورمه مهلت  د 2024 کال د اکتوبر تر 30 یوری دی

## ضمیمه 7 : په مکرر ډول شوي پوښتنې

*1.* زه باید څه وکړم که زه لاهم د جلاشویو کورنیو لاري لپاره د خپلې وړتیا په اړه ډاډه نه یم؟

دا مهمه ده چې تاسو د خپلو ځانګړو شرایطو لپاره قانوني مشوره وغواړئ. دا هم مهمه ده چې تاسو دا واضح کړئ چې تاسو په انګلستان کې د کډوالۍ په کوم حالت کې میشت یاست **(ARAP)**، **(ACRS)** ، د پناهنده ګۍ/ ریفیوجي سټاټس اونور.

.2 زه غواړم خپل تره/ ترور/ نیا نیکه / نور دکورنۍ غړي راولم څوک چې د 1 لارې، 2 مرحلې معیارونه نه پوره کوي. زه څه وکړم؟

دا مهمه ده چې تاسو د خپلو ځانګړو شرایطو لپاره قانوني مشوره وغواړئ د دې لپاره چې کېدای شي دا ممکنه وي ستاسو لپاره چې د یوې بلې لارې څخه د مېشته کېدلو لپاره غوښتنلیک ورکړئ.

*3.* زه د ***(ACRS)*** سپانسر راجع کولو فورمه چېرې موندلی شم؟

د **(ACRS)** سپانسرراجع کولو فورمه [دلته](#) شتون لري د دولت په ،ویب پاڼه کې.

*4.* آیا زه کولی شم پرته له خپل ***(BRP)*** یا ***(UAN)*** څخه فورمه بشپړه کړم؟

تاسو به پرته د **(BRP)** له نمبر څخه د **(ACRS)** سپانسر راجع کولو فورمې ته لاسرسی ونلرئ. که تاسو دا نشئ پیدا کولئ/ نه یې لرئ ، مهرباني وکړئ د کورنیوچارو وزارت ته بریښنالیک وکړئ په دې پتې

ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

.5 د ***(ACRS)*** سپانسر د راجع کولو فورمه تېروتنه ورکوي ( مشخصات پیدا نشول)، کله چې زه غواړم فورمه پیل کړم سره له دې چې زه د ***(ACRS)*** سټاټس لرم. زه څه وکړم؟

داسې راپورونه ورکړل شوي دي چې ځینې سپانسران نشي کولی د**(ACRS)** سپانسرراجع کولو فورمې ته انلاین لاسرسی پیدا کړي سره له دې چې هغوی ورد د **(BRP)** نمبر هم لري. که داسې وي ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ. ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk دا که تاسو د راجع کولو فرمې ته د لاسرسي لپاره ستونځو سره مخ یئ.

که ممکن وي، مهرباني وکړئ همدارنګه یو بریښنالیک فریبا ته د کډوالو ملاتړ ته واستوئ ( freya.morgan@refugeelegalsupport.org) څکه چې دا به مورږ سره د راجع کولو په پروسې کې دتېروتنو په څارنې کې مرسته وکړي.

*6.* آیا زما کورنۍ باید د مخه د ***(VAC)*** د ملاقات لپاره وخت واخلي؟

دمخه د (VAC) د ملاقات لپاره د وخت د اخیستلو اړتیا نشته.

*7.* آیا زما کورنۍ د (*VAC*) د ملاقات لپاره له سفر څخه معاف کېدای شي؟

**(VAC)** ته د سفر څخه د معافیت به هکله کوم لارښود نشته. دا مشوره نه ورکول کېږي چې (VAC) ته د سفر څخه معافیت وغوښتل شي ځکه چې کېدای شي دا پروسه وځنډوي. په هر صورت که چېرې د کورنۍ غړو ته هېڅ لار نه وي چې دوی **(VAC)** ته سفر وکړي نو دوی باید د کورنیو چارو وزارت سره اړیکه ونیسئ او دا ورته توضیح کړئ چې ولې دوی نشي کولئ دا سفر وکړي. په دې پته ACRSP1SeparatedFamiliesInfoRequests@homeoffice.gov.uk

د کډوالۍ سازمان **(IOM)** به د غوښتنلیک په پروسه کې د کورنۍ له غړو سره د استوګنې د ځای او خوړو به برخه کې مرسته وکړي.

8. زه څه وکړم که د کورنیوچارو له خوا ماته منفي یا دمستحق نه کېدلو ځواب راشي.

مهرباني وکړئ قانوني مشوره واخلئ که تاسو ته منفی یاد مستحق نه کېدلو ځواب راغی. د کډوالۍ مشاور به تاسو ته ستاسو دځانګړو شرایطو لپاره د غوره عمل په اړه مشوره درکړي.

تاسو همدارنګه له موږ سره هم اړیکه نیولئ شی cases@afghanprobono.org.uk او موږ ته د خپل منفی یاد مستحق نه کېدلو ځواب د لیک یوه کاپي راکړئ.

*9.* زه چېرې کولئ شم د ***(ACRS)*** د بشپړولو په اړه نور معالومات تر لاسه کړم؟

لاندې نورې سرچینې شتون لري چې کېداې شی ستاسو لپاره ګټورې وي.

## خپرکی 8 : اضافي سرچيني

**ACRS Sponsor Referral Form**

https://www.refer-afghan-family-to-come-to-the-uk.homeoffice.gov.uk/sign-in

**Home Office policy guidance on referrals made under the Afghan Citizens Resettlement Scheme (ACRS) Pathway 1, Stage 2: Separated Families:**

https://assets.publishing.service.gov.uk/media/66a7513449b9c0597fdb05ee/Afghan+Citizens+Resettlement+Scheme+Pathway+1+Stage+2+Separated+Families.pdf

**APBI mailing list for updates on the Afghan UK resettlement schemes, ministerial updates on Afghan refugees and updates on APBI services for Afghans:**

https://afghanprobono.us14.list-manage.com/subscribe?u=61d24b5c0b7ef24ebe5d503fa&id=f22a3f56a5